پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۵/۲۰

# لنډۍ او د لنډيو د ثبتولو ستونزه

## دوه ويشتمه برخه

## د لنډيو بڼ ته د نويو کلماتو راتګ

حال دي فيسبوک کي راته کيږده
پردی وطن دی مزدوری کي اخته يمه

ته په فيسبوک کي عکس کيږده
چي هرسهارديږ په ليدوزيارت کومه

وطن مي لويشت په لويشت خطرشو
خدای نا ترسو ډيرکرلي دي ماينونه

که په لنډيو کي د نويو کلماتو د کارولو موضوع وڅیړل شي ، لیدل کیږي چي د نوي زماني، نويو غوښتنو او پوښتنو ته په پام سره، د نويو اختراعاتو په رامنځ ته کيدو سره او د نوي تکنالوژی په رامنځ ته کيدو سره د نيو لو جيزم او پوروني د قواعدو په رڼا کي کيدای شي چي نوي کلماتو ته په ژبه کي ځای ورکړل شي او بيا په ورځنۍ محاوره وکارول شي او په لنډيو کي هم. په دې ډول د هرځای اوسيدونکي پښتانه او د هر نسل استازي کولای شي خپلي غوښتني پوښتني او د زړه خبرې په لنډيو کي مطرح کړي او د لنډيو پر غني شتمنۍ يي ور اضافه کړي. خپله ژبه او کلمات ور ننباسي او له نوې زماني او نوی تکنالوژی سره را منځ ته شوي کلمات په سمه او علمي توګه وکاروي. دا کار په هغه صورت کي کيدای شي چي د نويو رامنځته شوو س يا نوو اختراع شوو توکو له پاره يي په پښتو کي معادل و نه موندل شي.
دغه راز که د لنډيو د رامنځ ته کيدو، ودې ، بډايدو او هنري غنا تاريخي سير و څیړل شي ، لیدل کیږي چي په لنډيو کي د هر وخت او زمان غوښتني او پوښتني مطرح شوي دي، ستونزې، امکانات مطرح او له لاس لرلو هنري او لغوي زيرمي نه په استفادې سره د ټولني هر اړخبز ژوند په کي انځور شوی دی.
دې بايد ټول پام وکړي چي په لنډيو کي د نورو او کلماتو کارول ښايي د اوس له پاره يا د لنډيو د تخليق په شيبه کي يو څه ساده وي، خو وروسته له مودو يا يو څه وخت له تيريدو نه لوستونکو، ته او را تلونکو نسلونو ته يو څه ستونزې هم پيښولاي شي. بيا نو تازه څیړنو ته اړتيا ده چي په لنډيو او حتی په لنډيو کي د ځينو کارول شوو تورو په باب مقالي او رسالي وليکل شي بنه مثال يي د استاد معصوم هوتک هغه مقاله ده چي د ميوندي ملالي پر لنډۍ يي د« ميوندی ملالي ته منسوبه لنډۍ » تر سر **ليک** لاندې ليکلې ده.
په لنډيو کي د نورو ژبو د کلماتو راوړل يا کارونه، له علمي پلوه ور ګرځي د ژبې هغه علمي اصل ته چي په څه ډول يا د کوم اصل له مخي او څومره د يوې ژبې ويونکي کولای شي د نورو ژبو کلمات را پور کړي، يا يې په عين بڼه وکاروي او يا يې د خپلي ژبې د ځينو اصولو پر بنا لږ څه بدلون هم په کي را ولي لکه د چا خبره «مفغن» يې کړي. د دې اصولو په نظر کي نيولو سره ، په لنډيو کي د نوو تورو کارونکي دې باريکی ته هم بايد پام وکړي چي د لنډيو توري، کلمات او اندامونه ډير ښکلي او ظريف دي او په نويو جوړيدونکو لنډيو اندامونه بايد له داسي هنري ظريفو تورو نه جوړ کړای شي چي د لنډيو را تلونکي مانی په ښکلي بڼه لوړه کړای شي او سمه محتوی هم په کي په نظر کي وساتل شي.
پر دې خبرې د نړی ډيره سلنه ژبپوان سره سلا دي چي د هرې ژبې ويي پانګه له څلورو برخو جوړه شوې ده. پوهاند ډوکتور زيار په خپل «پښتو سيندګی، نيوزونه،neologisms» نومي اثر کي د ژبې همدې څلور ګونو برخو ته په اشارې سره، په يوه ژبه کي د را پور کړل شويو لغاتو په باب داسي نظر لري:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

«فارنیزمونه او اداپټیزمونه (Foreignisms and adoptisms) یا پور وییونه (پردي وییونه) د ژبنۍ پانګې ځلورمه ډله وییونه دي چې له نورو ژبو څخه را پورېږي، داسې چې، که په پور وړې یا اخستونکې ژبه کې په هماغه آره(اصل) جوله او مانا وکارول شي، فارنیزمونه(دخیل) بلل کیږي او که لږ و ډېر جولیز یا مانیز بدلون په کې راشي، یا په بله وینا، د پور وړې ژبې له فونولوجیکي او رغاونیز(ګرامیري) او یا هم له مانا پوهنیزو آرونو(اصولو) سره اړخ ولګوي، نو بیا اډاپټیزمونه(لکه د پښتو په اړه «مفغن» او د فارسي په اړه «مفرس») نومول کیږي، خو څنګه چې هر راز پوروییونه که د ډېرو نژدې خپلوانو ژبو تر مینځه هم وي، هیڅکله بې بدلونه نه پاتیږي، نو له دې کبله یې لویدیز انډول زیاتره «اداپټیزمونه» کارول کیږي، لکه بېنک(بانک)، شمع(شمه). یوازې لیکلې جوله لکه ظلم یا قاضي... هم د دې پلمه نه شي کېدای چې اره جوله یې خوندي پاتې ده، ځکه وینګیزه(تلفظي) جوله یې له عربي وینګ څخه هرو مرو لږ و ډېر توپیر لري.
نړیزونه بیا په دغه لړ کې هغو نړۍ سراسر دود وییونو ته وایي چې لکه ځانګړي نومونه په ډېره لږه استثناء په ټولو ژبو کې له لږ و ډېر جولیز بدلون سره کارول کیږي، لکه تیلیفون، رادیو، تلویزیون (ټیلویژن) ... چې جرمنۍ، عربۍ، هندۍ او یوې نیمې بلې ژبې ژباړلي دي.
په دې توګه د آرو پرنسیپ له مخې په هره ژبه کې د ویې پانګې له څلور ګونو برخو څخه لومړۍ درې برخې آره(اصلي) پانګه ګڼل کیږي او وروستۍ برخه یې پورنۍ یا عاریتي، په بله وینا باید په سلو کې یې تر پنځو ویشتو پردۍ یا را پور کړې پانګه تیرې و نه کړي، که نه د اردو غوندې ترې یوه کنډیباغي «پتوا» جوړیږي او په پای کې له خپلې ټولنې څخه کورټه او سکوټه پردۍ کیږي. او که دغه څلورمه برخه، په سر چپه توګه بیخي له ژبې و کښل شي، نو خبره بیا پیوریزم ته رسي چې یوازې په بنسټپالو نیشنلسټانو(فاشیستانو) اړه پیدا کوي. خو که څوک له خپلې درې ګونې(ګډوډي، لرغونې یا تاریخي او رغښتي) پانګې څخه له ژبني او نړیوال دود سره سم کار واخلي،هیڅکله پرې د پیورست یا فاشیست تور لګیدای نه شي. د نوې جوړونې دواړه یا ټول رغښتي توکونه، بیلښتي(اشتقاقي) وي که ترښتي(ترکیبي)، باید د اړوندې ژبې خپل مال وي او تر وسې وسې ګډوله نه وي، لکه نمر پرست یا نور پرست چې ولسي تیارونه یې نمرګلی دی.»(زیار پوهاند ډاکټر مجاور احمد، پښتو سیندګی نویزونه، خپرونکی: د ساپي د پښتو څیړنو او پراختیا مرکز، پیښور، ۱۳۷۸ ل ـ ۲۰۰۰ م کال، ۸ ـ ۱۱ مخونه)
د ښاغلي پوهاند ډوکتور زیار دې نظر ته که په ځیر سره پام وشي، لیدل کیږي چې دی په هره ژبه کې د پور وییوکو په باب ډېر په ټینګه د دې پلوي دی چې د اړتیا په وخت کې باید پنځه ویشت سلنه را واخستل شي او که څوک یوه ژبه په ټولیز ډول له دې برخې مبرا کوي، نو بیا د بنسټپالو نوم ورکول کیږي؛ نو د همدې علمي او جایزو اصولو له مخې دا پورونه په لنډیو کې روا او په ځای کار دی او دا کار په عام ډول د خلکو له خوا کیدای شي، خو شرط یې دا دی چې د لنډیو د شکل او محتوا ظرافت ته په پام سره هغه کلمات رواخستل شي چې په پښتو عامو لغتونو کې یې معادل نه وي او بل شرط به یې دا وې چې د لنډۍ نازکو اندمونو ته تاوان و نه رسوي، دا چې بیا د ټولنې او خلکو له خوا منل کیږي که نه، هغه د وخت آزموینه غواړي او د لنډۍ ښکلایز اړخ پورې هم اړه لري. دا یې څو بیلګې دي:

که دې زما دیدن یادیږي
فیسبوک دې خلاص کړه په خندا ولاړه یمه

له اشارو نه مسیجی شوه
مسیج مې نه زده یاري خاورې ایرې شونه

د یار مې سیمه غرنۍ ده
چې موبایل یې اوس آنټن نه ورکوینه

یار مې د غرونو استوګن دی
چې موبایل یې اوس آنټن نه ورکوینه

فیسبوک دې خلاص که ځوانیمرګ شې
دا څلور ورځې انتظار ولاړه یمه

لاس دې شل شوی دی که څنګه؟
چې ځواب نه شته دی زما د مسیجونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په موبایل کې بې چارج نه وي
اتومات وایي یاردې نه کړي ځوابونه

که دي زما ښیره یادیږي
سکایپ کې مې ګوره په خندا ولاړه یمه

په سکایپ کې راغلي برابره
د « و » او« نه » به راته وایي ځوابونه

دیدن دې سکایپ کې راولیږه
هرڅه وړیا دې د سکایپ نه شته قیمتونه

حال دې مسیژ کې راولیږه
لارې کوڅې له ملایانو ډکې دینه

پخوا ګودر و اوس فیسبوک دی
فیسبوک کې نه شته د ګودر نرم بادونه

حال دې فیسبوک کې راته کیږده
پردی وطن دی مزدوری کې اخته یمه

ته په فیسبوک کې عکس کیږده
چې هرسهاردې په لیدوزیارت کومه

وطن مې لویشت په لویشت خطر شو
خدای نا ترسو ډیر کړلي دي ماینونه

د دوه ویشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ